# معرفه الافغاني

## یا په احمد شاهي دوره کي د پښتو یو مهم متن

د نړۍ د کتاب پاڼي سره اوړي راوړي، څوك ځي څوك نوي پر نړۍ قدم ږدي، په دې اړودوړ کښي ځيني انسانان د شقاوت پر خوا يون کا، او ځيني بيا هم د ځان هم د نورو لپاره د سعادت وسايل تهيه کوي، هغه وخت چي زموږ د هيواد نومړی امپراطور او د ډېر نيك بخت سړی يعنی اعليحضرت احمدشاه بابا د پښتنو د حکمدارۍ او مشرتوب بيرغ پر هيواد لوړ کړ، او دا مملکت ئې د پردو له يرغله وژغوره دلته ډېر داسي خلك وو، چي د هيواد د سعادت په لار کښې زيارونه کښل، ځينو توري وهلې ځينو قلم اوچت کړ، ځينو هيواد ودانلوه او ځيني به داسي هم وو چي کوم کار ئې نه وي کړئ؟

د تاريخ پاڼي لکه هنداري داسي دي هغه ښکلي او مبارکي څېرې موږ ته راښکاره کوي چي دوی خپل هيواد ته څه نه څه خدمت کړئ وي، يا ئې اقلاً ښه نيت او اخلاص او صداقت درلود.

بالعکس داسي اشخاص هم راښيي چي دوی له هيواده سره ډېره مينه نه لرله، او يا ئې داسي چاري غوره کړي دي چي وطن ته ئې ضرر رسولئ دئ موږ چي تاريخ لولو هم د دغه لپاره دئ، چي داسي ښه بد خلك پېژنو، د دوی له اعمالو او اقوالو څخه عبرت واخلو، د ښو پيروي وکړو له بدو يې ځانونه وژغورو.

په دولسمه هجري پېړۍ کښي زموږ وطن ډيرو تيارو نيولئ ؤ، د افشار نادرشاه يرغلونه جاري وه، څو کاله پښتنو پر هرا ت سرونه ورکول بيا يو کال کندهار په وينو لړلی ؤ، بيا په غزني او کابل کښي هم د دې شواخون هنگامه توده وه.

تر ۱۱٦۰ هـ وروسته چي احمدشاه بابا د دې هيواد د چارو ملوني په خپل غښتلي لاس کښي ونيوی نو د آمو له غاړو څخه بيا تر خيبر او هراته دا هيواد د امنيت او ... په پلوشو روڼ سو، دلته هر څوك په ځان وپوهېدل او هر چا خپل کار ته لاس ورته کړ.

په دغو وختو کښي د کاکړو ږوب په غرو کښي يو سړی اوسېد چي څښتن د ده په طبيعت کښي علمي او ادبي پراخ استعداد ايښی وه، او د پښتونخوا د شنو بڼو يو خوشنوا بلبل گڼل کېدئ.

دا سړی د خپل غښتلي طبيعت او رڼې قرحې په زور باوري او له ژوبه د کندهار ښکلي ښار ته راغی، گويا بلبل وه چي د غرو له ځنگلو څخه راوالوت او د ارغنداو په گڼو باغو کښې ځالۍ وکړه.

هغه وخت چاته دا نه معلومېده چي داخوشنوا بلبل به د پښتو د ادب په زرغونه بڼ کښي د خپلو خوږو نغمو او نارو شور جوړ کړي هغه وخت چا دا نه ويل چي دا ستوری به وروسته د پښتو د ادب پر هسك باندي ډېر روڼ وځليږي.

دا سړی پيرمحمد نومېد، راغی په کندهار کښي ميشته سو، تحصيل ئې وکړ، د لوست او زده کړي په برکت د ښه علم حاوند سو، څو چي د احمدشاه بابا په کورني مکتب کښي په استادۍ وټاکل سو.

پيرمحمد د شهنشاه د دربار او کورنۍ استاد سو، عزت او حرمت ئې و موند، د احمدشاه بابا زامنو ته ئې لوست کا، خو د پښتو په فکر کښي هم وو، او د خپلي ژبي ادب ته ئې د خدمت کولو شوق درلود.

زه دا نسواي ويلای چي د پيرمحمد اصلي مشوق څوك وو، خو دونی ويلای سوای، چي په خپله شهنشاه به هم کله کله قلم اخيست، او پښتو اشعار به ئې ليکل، وزير شاه ولي خان باميزی چي د دربار لوی رکن او

صدراعظم و هم ئې علماء او پوهان روزل.
نو چي زموږ کاکړ پیرمحمد په دربار کښي د ستر واکمن اشعار راوربدل، د ده رڼه قریحه لاپسي صفا کېدله، او د پښتو ادب ته ئې تخنك زیاتېدئ.
څه سر دي ګرزوم پیرمحمد په دربار کښي ښه شاعر سو، د پښتو شعر یو دېوان ئې جوړ کړ، او لکه شمس الدین کاکړ چي وایي ګور لره ئې هم د شعر آرمان یووړ.
ځیني خلك وایي : چي انسان مړ سي، نو د ده نوم نښان، هم ورسره مري، مګر داسي نه ده، مکارم او سیر ئې تل ژوندي پاتیږي، د قلم د خاوندانو افکار تل ژوندي وي، اوس څو زره کاله وروسته موږ د افلاطون او ارسطو افکار لولو، د دوی مکارم هیڅکله نه مري.
پیرمحمد هم ښایي چي په تیموري دوره کښي مړ سو، او اوس د کندهار په شمالي څنډه کښي د شاه د ولې پر غاړه د لوی ځښتن په رحمت کښي په تورو خاورو کښي پروت دئ، مګر دا سړی هغسي لکه ستر واکمن احمدشاه بابا چي یادیږي، دی هم په ښو یادیږي، او د پښتونوالي په دنیا کښي کورټ د ده نوم او نښان نه هیریږي.
څو پېړۍ تیري سوې اوس چي دلته د ده په نامه قلم چلوم او د پښتونوالي په دنیا کښي د ده له روحه استمداد کوم، او په ښه نامه ئې یادوم، دا د ده حق دئ او پر پښتنو ډېر نور حقوق لا هم لري.
دنیا تېرېدونکې ده، هر څوك مري، خو سخ هغه چا لره چي آیندګان ئې په ښو وستایي، او د ده نوم د نړۍ پر کلکه تخته په بدو نه وي لیکلی.
پیرمحمد کاکړ د دنیا په اړودوړ کښي پخپلو علمي مشاغلو بحث و، ستر واکمن مړ سو، پښتانه ئې په ناورین اخته سول، وروسته د ده زوی سلیمان پاچا سو، دا سلیمان د پیرمحمد شاګرد ؤ، اوس پیرمحمدد پاچا استاد سو، مګر اوس نه پاچا پاته دئ او نه استاد خو فقط هغه خو یو څو کوچنۍ څو پاڼې کتاب پاته دئ. چي پیرمحمد د خپل شاګرد پاچا (سلیمان) په نامه وکیښ.
وګورئ : زماني مشر شهزاده (تیمور) له هراته راوپاڅاوه، او سلیمان ئې ړوند کړ پاچهي ئې ولاړه ټول وروڼه هم مړه سوه، خو د پیرمحمد علمی کارونه د سلیمان په نامه پاته سوه، او د هغه ناکام ټولواك نوم ئې تر قیامته ژوندی کړ، څوك چي وایي (ادب نحوست لري) دلته دي وګوري دا خو نحوست نه دئ، ادبي ژوندون دئ.
پیرمحمد د پښتو له لمړنیو لیکوالو څخه دئ، چي ده د دې ژبي د لغاتو او کلماتو د ټولولو فکر وکړ، او د ژبي ابتدائی ګرامري اشکال ئې سره راغونډ کړه، او د یوې کوچنۍ رسالې په ډول ئې پرېښوول چي "معرفة الافغاني" نومیږي.
نه پوهیږم چي پیرمحمد څه شي مجبوره کړئ وه او کوم سایق ده ته قلم په لاس ورکړئ وه چي دا کتاب وکاږي؟ خو دوني ویلای سم چي د هغه وخت ملی او علمی فضا ده ته رهنمایي کړې وه : یعنی په هغه وخت کښي هم دغه ملي احساس موجود وه، او د پښتو د ژوندانه فکر په دماغو کښي وه.
په هر صورت ده دغه کوچنوټې رساله وکښله او د پښتو او ملیت د احساس څراغ ئې ولګاوه، چي اوس د دغي رڼې ډېوې په رڼا کښي موږ هم رواني و، او پر هغه لار ځو، چي دوی ئې د تللو آرزو درلوده.
تر دې لنډې پېژندني وروسته به اوس زه د دې کتاب اجزا او مباحث دروښییم : لومړی په حمد او نعت شروع کوي دا منظوم مثنوی دئ او داسي وایي :

راسه تل د حق ثناء کړه
په ثناء ژبه ګویا کړه
دا ثنا په زړه کښي نهال که

په سایه ئې خنك بال که
که په دې ثنا مشغول سې
په دوه کونه به مقبول سې

تر څو بیته وروسته په نعت او بیا د اصحابو کرامو په ستاینه شروع کوي، دوهم باب نعت او دریم یې د اصحابو (رض) ستاینه ده، څلرم باب په مدحه کښې د شهزاده سلیمان دئ، چې دلته وایې :

پسله حمده له دروده
سوه د شاه مدحه مقصوده
پر عالم فیض د جود سو
د نعمت شکر مقصود سو
د شاه تخت سلیماني دئ
عجب لطف یزداني دئ
زیب و زینت دئ شاه د علم
سیال یې نسته څوك په حلم
پر میدان د جنگ هم شیر دئ
د اعداء په حق شمشیر دئ
صایقه د ده د قهر
ورانوي د دښمن ښهر
ډیر محکم ئې تخت و بخت دئ
پر دښمن ئې آرام کخت دئ
لذیذ عمر ئې پرې تریخ کړ
پراخ جهان ئې باندې سیخ کړ
سرکښ خصم ئې مقهور سو
په قلم د غم محصور سو
پښتانه ورباندې ښاد سوه
له همه غمه آزاد سوه[١]

[١] د مجلې د لومړیو ورقو د نه لرلو له امله ماخذ ونه ښوول سو.